امین بسمل

۱۳ جنوری ۲۰۱۳

# بیا تللی و چې وتلي سامان دملکانو



لوړپوړی سوداګردی چپن وړي چپن راوړي
دټول جهان نوکر دی چپن وړي چپن راوړي

هرڅوک که ورته سترګي برګوي یا پرې تېرى کړي
بي تریخي بې څګر دی چپن وړي چپن راوړي

له لوړوملکانوسره ګرزي په چپن کي
نه لوړنه سروردی چپن وړي چپن  راوړي

وهلى یي چلم و برملک ته یي غوسه کړه
پرې مړ یي برادردی چپن وړي چپن راوړي

په دوولسوکلوکي یي خپل ملک له بدبدترکړ
نه مشر نه  رهبر دی چپن وړي چپن راوړي

سترګک چي کوي هرڅل داخوهسي ټوکي نه دي
په دي کي یي هنر دی چپن وړي چپن راوړي

چې ویښ وي دهرچاله وېرې رپي لکه بڼه
په خوب کي زوروردی چپن وړي چپن  راوړي

بیا تللی و چې وتلي سامان دملکانو
مات شوی یي وزردی چپن وړی چپن راوړي

بسمله تېروې داقېمتي وخت په چاباندې؟
نه ښځه اونه نر دی چېن وړي چېن راوړي